# لړه پوهه

هاشم خان درديال

د هرې خبرې ښه بد اړخ وي خو د ګران باچاخان د پوهې په رڼا کښې هر پښتون ته په ښه هيلو غور په کار دے. لکه باچاخان وائي پوره وي که سپوره وي په شريکه به وي دې دوه خبرو کښې څومره لويه فلسفه او حکمت واضح دے او څومره لوئې مقصد لري خو افسوس هغه څه چې يو قوم د وحدت او ترقۍ په لار ګامزن کولے شي پښتون اوس هم د هغې نه محروم دے. پښتنو ته هغه مينه چا ور نه کړه کومه چې هغه هر چا له ورکړې ده. په دې هم هر پښتون له غور په کار دے. پښتون مشر ته عزت ورکوي او د کشرانو سره بې کچه مينه لري او څومره احترام چې د خپلو تور سرو کوي شايد چې د دې مثال بل قوم کښې نه وي. خو نن چې د جديد ټيکنالوجۍ تجارتي مارکيټونو مقابله روانه ده نو پښتون خپله تشه جولۍ جګوي چې څه وکړي دا نه چې پښتون محنتي نه دے خو پښتون د خپل قام او مشر په ځائې د بل لمنه نيولې ده چې څه به ترې وغورځېږي او زۀ به ئې راواخلم. خو دے دا پوهه نۀ لري او په دې سوچ او فکر نه کوي چې د بل لمن ما چرته بوځي. دغه وجه ده چې خلق ئې په قسماقسم نعرو غولوي او د يو بل سره ئې جنګوي او پښتون د يو نه د بل او د بل نه د بل په چالونو کښې داسې را ګېر شي چې بيا په چل نه پوهېږي او د خپل قامي طاقت په ځائې د نورو په رحم کرم وي. مونږ خپل ګريوان ته نه ګورو خو د بل ګريوان به ګنډي.

د نولي نه چا تپوس اوکړو چې کور دې کوم ځائې دے. نولي ووې چې د شپاله يوه غاړه او بله غاړه نو که د پښتون نه څوک تپوس اوکړي نو څه به وائي. پښتون ته معلومه ده چې نور په سوونو کلونو تېرېدو باوجود مونږ پاکستان کښې ترقي نه شو کولے. نو د خپل مور او پلار، بچو او خاندان په پرېښودو مجبوره شي او د عربو سرې شګې زرغونوي. اول هلته خپلې ځوانۍ خاورې کړي يا په هېواد کښې ئې مور پلار مړه شي او د هغو ديدار ئې هم نصيب نه شي. بچي يې بې تعليمه پاتې شي او څه پکښې دومره اوکړي چې يو کور جوړ کړي خو خپله او د خپلې کورودانې ځواني ختمه شوې وي. او پښتانه دلته حيران دي چې ځان ته پښتون،پښورے،کوټې وال،قبائيلي پاکستانے که افغان اووايم او عرب خو ځان ته وئيلے نه شي. ولې چې هر مسافر پښتون ته معلومه ده چې عرب پښتنو ته په ښه نظر نه

ګوري. حالانکې عرب د پښتنو په محنت ښکلې شوې دې. ما سره په خپله داسې مشران سعوديان ميلاو شوي دي چې دلته زمونږ ذريعه معاش کجوري يا ګډې،بيزې يا د حاجيانو لوټ مار ؤ او مونږ په خپله خپلې خوا بندې لوږه د ښځو په مېلو کښې په سړو په سل،سل رياله خرڅې کړي دي اوس هم زمونږ ښې چاؤدلې او مخ لاس د دوړو خړ پړ وي دا خو دې خارجي ملکونه الله خوشحاله کړي چې زمونږ هېوادونو کښې ئې تيل معلوم کړل کارخانې ئې اولګولې او مونږ په خېټه ماړه شو.

پښتنې سيمې کۀ څومره زرخيزه او معدنياتو نه ماله مال دي خو پښتانه اوس هم په خپلو بچو تعليم نه شي کولے او نه د علاج طاقت لري او نه ئې څه روزګار شته. او نرخونه دومره ګران دي چې کۀ يو شے ليدے شي خو د خوړلو طاقت نه لري. د عربو دولت پنجابيانو ملايانو له راځي او چې پنجابي مليان د پښتنو سره څه کول غواړي هغه کولے شي. او پښتنو ته ئې ټوپکې او بسترې په اوګو ايښودې دي چې خپل نسل په خپله ختم کړي. ولې چې پښتانه بې روزګاره دي او څه معاشي ذريعې نه لري. په دې وجه پنجابي مليان په ډېر کم عوض پښتنو کښې مذهبي ډلې فرقې جوړې کړي او پښتانه خپلو کښې په جنګ اخته کړي. پښتون قام،پښتو ژبه،پښتون تهذيب تمدن او ثقافت بيخي ختم کړي او د عربو ژبه او تهذيب د اسلام په نوم قائم کړي.

بل اړخ ته دښمنانو عمران خان د تحريک انصاف په نوم په پښتنو قابض کړے دے چې خيبرپښتونخوا کښې چې څومره تعليمي ادارې دي د هغې نه پښتو ژبه ختمه کړي او يو داسې ټولې ئې تيار کړي دي چې ټولو سکولونو، کالجونو او يونيورستيانو ته هره ورځ ځي او استاذانو،هيډماسټرانو،ليکچررانو،پرنسپلانو، پروفيسرانو او چانسلرانو ته هره ورځ وائي چې خپلو ادارو کښې به د زده کوونکو سره په پښتو ژبه خبرې نه کوئ. اول به انګريزي وايئ او کۀ انګريزي نه درځي نو اردو به وايئ. خو نه به خپله خپلو کښې په پښتو ژبې خبرې کوئ او نه به د وړو سره ګني د خپلو نوکرو نه به لاس وينځئ.

تاسو ټول په دې خبره غور وکړئ چې دا د پښتنو د نوي نسل او مستقبل سره څومره جبر روان دے چې د خپلې ژبې نه ئې تراوسه محرومه کول غواړي. نه نوي سکولونه،کالجونه او يونيورستۍ جوړولے شي. نه د بجلۍ کموت پوره کولے شي. نه د نرخونو د کمولو څه فکر لري او نه چا ته هسپتالونو کښې مفت داروګان ورکولے شي. خو يو د پښتو ژبه کښې چې په اسانه تعليم کولے شي او د پښتون قوم د ترقۍ يو سبب دے په هغه مورنۍ ژبه د تعليم کولو پابندي لګوي. افسوس چې عمران خان له په خپله پښتو ژبه ورتلے او په پنجابۍ او انګريزۍ نه پوهېدې او چا

ور ته وئيلے چې پښتو ژبه به نه وائې نو هله به ور ته احساس شوے ؤ چې خپله ژبه څومره خوږه وي ايا د دنيا ټولو ملکونو خپله ژبه کښې ترقي نۀ ده کړې چې د عمران خان پښتو ژبه دومره دشمنه شوې ده. د يو قوم د ترقۍ دپاره خپله ژبه څومره اهميت لري او اقوامي متحده له اړخه وئيلے شوي دي چې د هر قوم بچي بايد چې په خپله مورنۍ ژبه تعليم حاصلوي.

زه پښتون قام ته دا خپل مخ اووهم که چغې کوکارې جوړې کړم اسمان ته لاس اوچت کړم کــه دا خپلې غوښې د ځان نه پرې کړم چې تاسو ولې د انګريزانو له خپل ووټ ورکولو اوس ور ته ټينګ شئ. سړي نا سړي ته ګورئ خو چې چا درپسې ډنډا راواخسته نو هغه به مو خوښ وي. طالبان چې کوم ځائې دهماکه وکړي او چې هر څومره واړه لوئې پکښې مړه شي او طالبان ښه په نره هغه قبوله کړي. خو عمران خان دومره يريدونکے دے چې د طالبانو خلاف د خولې نه اُف نه شي ويستلے. او د خاموشه امن پسند مورنۍ ژبې ختمولو پسې ئې راخستې ده. هغه چا ته د حکومت کولو څه حق دے چې عمران خان،نواز شريف وغيره هره ورځ په لکونو روپۍ په خپله سيکورټي خرچه کوي. حالانکې قامي مشران خو پياده هر کور ته ځان يواځې رسوي. پرويز خټک صېب خو د وزيراعلی کرسۍ نيولې ده او د خپل کور پينځه شپږ زنانه ئې اسمبلۍ ته راوستي د ځان نه ئې چاپېره کينولي دي ايا دې صوبه کښې د تحريک انصاف سره نورې تعليم يافته قابلې زنانه نه وې چې پرويز خټک صېب د اسمبلۍ نه خپله حجره جوړه کړې ده. سراج الحق صېب چې زما شان ئې کور ليدلي نه ؤ نن ور ته اوګوره خپلې ګيرې لـه څنګه څڼ ورکوي څه ور ته کم وي. چې په خوب کښې ئې موټر نه ؤ ليدلے نن د موټرو په بدرګه کښې روان وي.

يوه ورځ د ټي وي نمائنده د سراج الحق صېب نه انټرويو اخسته چې تاسو خو ځلمي د کشمير جهاد لـه لېږئ او هغه هلته مري ايا په تاسو او ستاسو په بچو جهاد فرض نه دے. خپل بچي ولې جهاد له نه ليږئ چې غازيان يا شهيدان شي نو سراج الحق صېب وې چې زما بچي په کالج کښې سبق وائي. نو نمائنده ور ته اووې چې کوم هلکان چې تاسو د کشمير جهاد له لېږئ ايا هغه سکول کالج کښې سبق نه وائي. نو سراج الحق صېب خپل برېت تاؤ کړل. او لاجوابه شو زه ټولو پښتنو وروڼو ته وايم چې اسلام موږ ته د اتفاق او امن درس راکوي. خو دا زرخريده مليان صاحبان موږ پښتانه په خپلو کښې د اسلام په نوم جنګوي او په بين الاقوامي طور اسلام بدناموي.